# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|



ربیلا عطائی

۲۲ سپتمبر ۲۰۱۵

سخنرانی ربیلا عطائی

## زما مور




حضار گرامی، سلامهایم را بپذیرید و اجازه بدهید تا سخنانم را به نام "مادر" موجودی که از جان و هستی مایه می گذارد تا فرزندانش به ثمر برسند، آغاز نمایم . به یقین مادرم راون شاد "خورشید عطائی" یکی از برجسته ترین نمونه های یک مادر مهربان و موفق بود.

زما مور، اروا شاده خورشید عطائی داسي يوه ميرمن وه چي خپلو بچيانو ته يي په داسي يوه خاصه او مؤثره ډول پاملرنه کوله چي دي په خپله مساعده او مناسبه ګڼله. ښايي ځينو ته د هغي ميتودونه غير معمول ښکاره کيدل.

د هغي لارښوني او دسپيلين يوازې يو مقصد او هدف درلود، د خپلواکو لونو روزل او پالل. ترڅو د ژوندانه د جګړې په ډګر کښي د ژوندی پاتي کيدلو توان ور سره موجود وی.

د هغي قوت يا د تحرک منبع د هغي له خپلو شخصی تجاربو څخه سرچينه اخيستله. دا ځکه چي هغه پخپله په يوۀ پلارواکي او يوې ډېرې تينګي عنعنوی ټولنه کښي د يوې روشنفکرې کورنى, يوازينى ماشومه وه.

د هغي مور او پلار د ډیرو هغو جابرانه عنعناتو او رواجونو پر خلاف ول، چي د دوی په نظر ویروونکی او غیر انسانی ول ـ نو له همدې کبله وه چي هغوی خپله یوازینی لور یي له دا ډول ناوړه رواجونو او د هغوی د آسیب پر وړاندې وساتله نو ځکه یي یوه «زمری» وروزله.

سره له دې چي د ورور او د زوی په نـهٔ لرلوځوریدله. ځکه چي اکثر زمونږ ټولنه د ښځی په ړوند کی دنارینه موجودیت ته یو خاص ارزښت ورکوی، اوهغوی ته د ښځو د محافظ یا ساتونکو په سترګه کتل کـیږی. خو، هغه هیڅکله دې نظریې ته تسلیمه نه شوه چي ګواکي یوه ښځه د ژوندی پاتي کیدلو لپاره ساتونکی ته اړتیا لری.

همدارنګه، زما مور ددې طرفداره نه وه چي اولاد ته افراطی ناز او نعمت ورکړل شی. هغي ته دا شیان د بي کفایتی او ضعف د میکروبونو په شان ول. د هغي طرز دید د نړی د ډیرو پیاوړو ښځو یا میندو په شان وو، چي خپل بچیان، په خاصه توګه نجوني، دې ته وهڅوی چي، د پایښت او بقاء مهارتونه، د ځانی دفاع مهارتونه چي فزیکی او دماغي قوت او توانمندی دواړه په کي کارول کیږی، په هماغه تنکی عمر کي زده کاندی.

هغي ته د لوړو زده کړو لاسته راوړل خاص ارزښت درلود. او همدا شان خپل بچیان یي هڅول چي په تنکی ځوانی کي د ټولني د بشری کاری قوت برخي ته وردننوځی.

مطمـــئـنـه یم چي له مونږ څخه د ناز او نعمتونو سپمول ورته سخت تمامیدل، خو هغي همدا ډول روزنه یي مناسب ګڼله، ترڅو مونږ د ژوندانه په ډګر کي د پایښت او بقاء په مبارزینو بدلی کړی. ځکه چي هغه پخپله د فردی خپلواکی او په ځان د متکی پاتي کیدلو په ارزښت پوهیده.

دا هغه ارزښتونه ول چي موږ ته ئــې رازده کړل، او زه ډاډمنه یم چي هغه په دې پوهیدله، چي دې هم د خپل مور او پلار په شان، «زمری» یي روزلی ده.

مادرم همیشه می گفت: شما باید در کنار آن که خود را نیرومند می سازید تا از گزند روزگار به دور مانید، باید فراموش نکنید که از کجا آمده اید و مردم تان تا چه اندازه به کمک شما نیاز دارند.

او همچنین می افزود: اگر می خواهید که واقعاً برای مردم تان کمک کنید، باید یاد بگیرید که در کنار حفظ نکات مثبت فرهنگ جامعهٔ ما، بر زبانهای مروج در کشور تان نیز حاکمیت حاصل نمائید

مادر: مانند همیشه از تو تشکر می‌کنم، و به تو افتخار می کنم که به من و خواهرم این امکان و توانائی را بخشیدی تا اینک با مردم خویش که به مانند ما از کشور جنگ زدهٔ ما افغانستان در اینجا پناهنده شده اند، به زبانهای ملی ما حرف بزنیم و یاد ترا کنیم.

امیدواریم همه بتوانیم "خورشید گونه" زندگانی نموده در زدودن تاریکی ها با تمام قواء و توانمندی‌های خویش بکوشیم.

ډیره مننه ـ تشکر